د شمالي کارولینا ایالت د کډوالو دفتر

کورنۍ په ځان بسایښي پلان د (DSS-6230) د B برخه

د پیرودونکي نوم:

د بهرني شمېره: د قضیې سایز:

| | | | |
|---|---|---|---|
| میاشتنی عاید | 1 عاید | | $ |
| | 2 عاید | | $ |
| | 3 عاید | | $ |
| | 4 عاید | | $ |
| | **ټولټال میاشتنی عاید:** | | **$** |
| میاشتني امتیازونه | د نغدو پیسو مرسته | RCA, TANF, MG, SSI) او داسې نور.) | $ |
| | SNAP | | $ |
| | نور امتیازونه | WIC, SSDI) او داسې نور.) | $ |
| | بل | | $ |
| | **ټولټال میاشتني امتیازونه:** | | **$** |
| میاشتني لګښتونه | کرایه/ ګروي | | $ |
| | ګاز | | $ |
| | الیکترونیکي | | $ |
| | اوبه | | $ |
| | کیبل/انټرنیټ | | $ |
| | ټیلیفون | | $ |
| | خوراکي توکي | | $ |
| | شخصي پاملرنه | (صابونونه، د جامو مینځلو توکي، او داسې نور | $ |
| | ټرانسپورټېشن | (بس، د موټر تادیات، بیمه، او داسې نور | $ |
| | د سفر قرضه | | $ |
| | بیمه | (روغتیا، موټر، کرایه نیونکي، او داسې نور | $ |
| | سپماوې | | $ |
| | بل | | $ |
| | بل | | S |
| | بل | | $ |
| | بل | | $ |
| | **ټولټال میاشتني لګښتونه:** | | **$** |
| اټکل شوی خالص عاید | (ټولټال عاید + ټولټال امتیازونه) - ټولټال لګښتونه =<br>**د کورنۍ اټکل شوی ټولټال خالص عاید** | | |

ستاسو په ښار کې د میاشتنیو اوسطو معاشاتو او د ژوند د لګښت پر بنسټ، آیا دا قضیه اوسمهال په ځان-بسیا په توګه ګڼل کیږي؟

☐ هو ☐ نه

که چیرې نه، مهرباني وکړئ د ________________________________ لپاره د استخدام د ورتیا پلان(پلانونه) بشپړ کړئ

که چیرې هو، مهرباني وکړئ چوپړتیاوو کې د شمولیت لپاره لومړني دلایل (د بېلګې په توګه، بیا مهارت ترلاسه کول، د دندې اوسمهاله کول، د بلې دندې چوپړتیاوو ته اړتیا، او داسې نور) وړاندې کړئ: ________________________________

د اداري کارکونکی

________________________________

نوم لاسلیک نېټه

پیرودونکی

________________________________

نوم لاسلیک نېټه

شفاهي ژباړونکی

________________________________

نوم لاسلیک نېټه

د شمالي کارولینا ایالت د کډوالو دفتر
کورنۍ په ځان بساینې پلان د (DSS-6230) د B برخه

**لارښووني:**
د دې فورمې موخه د داسې یو میتود برابرول دي د کوم پواسطه چې د کډوالو د چوپړتیا چمتو کونکی کولای شي له پیرودونکي سره له اقتصادي پلوه ځان-بسیا کیدو لپاره د اړین عاید، او لکه څرنګه چې پیرودنکي د ځان-بسیاینې په لور حرکت کوي هغه ته د لاسرسي وړ سرچینو د اندازو په مشخص کولو کې مرسته کولای شي. د اداري یو کارکونکی باید د چوپړتیاوو له وړاندې کولو څخه دمخه دا فورمه بشپړه کړي. دا فورمه باید د هر هغه پیرودونکي/ کورنۍ لپاره چې د دندې چوپړتیاوې ورته برابریږي، بشپړه شي. که چیرې د دندې چوپړتیاوې د یو کورنۍ څو غړو ته چې ورته لګښتونه لري وړاندې کیږي، د کورنۍ له مشر یوه بشپړه بودجه بشپړه شي، مګر د بشپړې شوې فورمې (فورمو) یوه کاپي به د کورنۍ د راتلونکو غړو په دوسیو کې وساتل شي.

د پیرودونکي نوم: د هغه کس نوم چاپ کړئ د چا لپاره چې تاسو پلان جوړوئ.

د بهرني شمېره: د هغه پیرودونکي د بهرني شمېره ولیکئ د چا لپاره چې تاسو دا پلان جوړوئ.

د قضیې اندازه: په قضیې کې د شاملو غړو شمېر لکه څرنګه چې د DSS-6230 له A برخې څخه مشخص شوی وي، څرګند کړئ. پدې کې ښایي متکي کسان یا کوم بل کس چې پیرودونکی یې مالي مسؤلیت پرغاړه لري، شامل وي.

**اټکل شوی میاشتنی عاید:**
په چمتو شوو ځایونو کې په کورنۍ کې د استخدام وړ هر بالغ کس لپاره تمه کیدونکی یا حقیقي میاشتنی خالص عاید تخمین کړئ. پدې کې ښایي د آزاد کاروبار عاید، لکه اضافي عاید چې کورنۍ لپاره د شخصي کاروبار (د ویښتانو جوړولو، د کور د ورځې لخوا پاملرنه، او داسې نور) له لارې د لاسرسي وړ وي، شامل وي. د میاشتني ټولټال عاید مشخص کولو لپاره ټولټال مقدار اضافه کړئ.

**اټکل شوې میاشتني امتیازونه:**
د میاشتني امتیاز ټولټال عاید چې کورنۍ د هغه د ترلاسه کولو په شرایطو باندې برابره ده، د امتیاز دډول د باکسونو ترڅنګ تخمین کړئ. د میاشتني ټولټال امتیازونو د مشخص کولو لپاره ټولټال مقدار اضافه کړئ.

د نغدو پیسو مرسته: پدې کې ښایي RCA، TANF، SSI، او داسې نور شامل وي.

SNAP: که چیرې پیرودونکی/ کورنۍ SNAP، چې د خوراکي توکو د مرستې په نوم هم یادیږي، ترلاسه کوي پدې صورت کې میاشتني مقدار ذکر کړئ.

نور امتیازونه: مهرباني وکړئ څرګنده کړئ چې آیا پیرودونکی/ کورنۍ د مرستې کوم بل ډول، لکه WIC، SSDI، او داسې نور ترلاسه کوي.

**اټکل شوي میاشتني لګښتونه:**
پیرودونکي/کورنۍ لپاره ټولټال میاشتني لګښتونه اټکل کړئ. که چیرې لګښتونه شریک کیږي، د بېلګې په توګه د خونې له ملګري سره، هغه مقدار څرګند کړئ چې پیرودونکی یې د اداء کولو مسؤل دی. غوره اټکل په هغه صورت کې ښه دی چې پیرودونکی د کره مقدارونو په اړه ډاډه نه اوسي. که چیرې پیرودونکی یا کورنۍ مسؤل نه وي/ ټاکلی لګښت ونلري، مهرباني وکړئ "N/A" ولیکئ. د ټولټال میاشتني لګښتونو د مشخص کولو لپاره ټولټال مقدار اضافه کړئ.

کرایه/ګروي: د کرایې هغه مقدار چې کورنۍ یې باید هره میاشت اداء کړي، ولیکئ.

ګاز/تیل: هغه اټکل مقدار چې پیرودونکی یې باید هره میاشت د ګاز/تیلو لپاره اداء کړي، ولیکئ.

الیکترونیکي: هغه اټکل شوی مقدار چې پیرودونکی یې باید هره میاشت د برېښنا لپاره اداء کړي، ولیکئ.

اوبه: هغه اټکل شوی مقدار(که چیرې شتون ولري) چې پیرودونکی یې باید هره میاشت د اوبو لپاره اداء کړي، ولیکئ.

کیبل/ انټرنیټ: هغه اټکل شوی مقدار(که چیرې شتون ولري) چې پیرودونکی یې باید هره میاشت د کیبل او/یا انټرنیټ لپاره اداء کړي، ولیکئ.

ټیلیفون: هغه اټکل شوی مقدار چې پیرودونکی یې هره میاشت د ټیلیفوني چوپړتیاوو لپاره اداء کوي، ولیکئ

خوراکي توکي: هغه مقدار اټکل کړئ چې پیرودونکی/کورنۍ یې هره میاشت د خوراکي توکو لپاره اداء کوي.

شخصي پاملرنه: هغه مقدار اټکل کړئ چې پیرودونکی/کورنۍ یې هره میاشت د شخصي پاملرنې د توکو لکه، صابونونو، لوشنونو، د جامو مینځلو توکو، او داسې نورو لپاره اداء کوي.

د شمالي کارولینا ایالت د کډوالو دفتر
کورنۍ په ځان بساینې پلان د (DSS-6230) د B برخه

ټرانسپورټېشن: هغه مقدار اټکل کړئ چې پیرودونکی/ کورنۍ ورته هره میاشت د ټرانسپورټېشن لپاره اړتیا لري. که چېرې پیرودونکی(ي) له عامه بس سیسټم څخه ګټه پورته کوي، د بس د ټکټونو اټکل شوی لګښت ولیکئ. که چېرې پیرودونکی(ي) له یو دربست شوي موټر څخه ګټه پورته کوي، هغه مقدار ولیکئ چې د کورنۍ هر کس یې هره میاشت د خپل هدف ځای ته د تللو لپاره اداء کوي. که پیرودونکی(ي) یو موټر ولري، نو هره میاشت د موټر د سون توکو، د موټر د جواز او بررسۍ لګښت، او د احتمالي ترمیم لګښتونه ولیکئ.

د سفر قرضه: د سفر هر ډول ناتادیه شوي قرضه چې کورنۍ یې باید د خپل سفر د لګښت لپاره اداء کړي، ولیکئ.
د کورنۍ د هر غړي د قرضې تادیات ولیکئ.

بیمه: هغه مقدار اټکل چې پیرودونکی/کورنۍ یې باید د د خپلې د اړتیا وړ هر ډول بیمې لپاره اداء کړي. په بېلګو کې شامل دي: روغتیایي بیمه، د کور د مالک یا د کرایه نیونکي بیمه، د موټر بیمه، او داسې نور.

سپماوې: هغه مقدار چې پیرودونکی/کورنۍ یې هره میاشت د سپمولو هیله لري، اټکل کړئ.

بل: دا چې د هر پیرودونکي حالت جلا دی، نو د اضافي لګښتونو لپاره ګڼ شمېر لیکي شتون لري چې ښایي د نورو کټګوریانو پواسطه تر پوښښ لاندې نه راځي. که چېرې د پلي کېدو وړ وي، مهرباني وکړئ په برابرو شوو کربښو کې د لګښت ډول او هر یوه لپاره یې میاشتنی اټکل ولیکئ. په بېلګو کې ښایي لاندې موارد شامل وي:

ماشوم پالنه: هغه مقدار اټکل کړئ (که چېرې شتون ولري) چې پیرودونکی یې هره میاشت د ماشوم پالنې لپاره اداء کوي.

جامې: هغه مقدار اټکل کړئ چې پیرودونکی یې هره میاشت د جامو لپاره اداء کوي.

ښوونه او روزنه: هغه مقدار اټکل کړئ چې پیرودونکی/کورنۍ هیله کوي هغه هره میاشت د ښوونې او روزنې لپاره جلا کړي.

**اټکل شوی خالص عاید:**
د پیرودونکي/کورنۍ د خالص عاید د محاسبې لپاره د عاید (عاید + امتیازونه) او لګښتونو تر منځ توپیر محاسبه کړئ. د دې ارقامو کارولو سره، او همدارااز اوسط معاشونه او ستاسو په سیمه کې د ژوند کولو اوسط لګښت، آیا دا قضیه اوسمهال په ځان-بسیا په توګه په پام کې نیول شوې ده؟ مهرباني وکړئ هو یا نه ووایاست.

که چېرې نه، مهرباني وکړئ څرګنده کړئ چې تاسو به پدې قضیې کې د چا لپاره د استخدام د وړتیا پلان (DSS-6232) بشپړ کړئ. که چېرې هو، مهرباني وکړئ د استخدام د وړتیا په پلان (DSS-6232) کې د پیرودونکي د شاملولو لپاره یو لنډ دلیل وړاندې کړئ. په دلایلو کې ښایي د دندې اوسمهاله شوي مالومات، بیاځلي مهارت ترلاسه کول/بیا تصدیقول، او داسې نور موارد شامل وي.

د اداري کارکونکي: فورمې کې باید د اداري د هغه کارکونکي لاسلیک او نېټه شامله وي چې له پیرودونکي سره د کورنۍ په ځان-بساینې پلان بشپړوي.

پیرودونکی: فورمه باید د پیرودونکي د لاسلیک او نېټې لرونکې وي او څرګنده کړي چې هغه/هغې د کورنۍ په ځان-بساینې بشپړ شوی پلان لکه څرنګه چې ښودل شوی دی؛ لیدلی دی، پرې پوه شوی دی او ورسره موافق دی.

شفاهي ژباړونکی: فورمه باید د شفاهي ژباړونکي د لاسلیک او نېټه ولري. که چېرې هېڅ شفاهي ژباړونکي ته اړتیا نه وه، مهرباني وکړئ "N/A" ولیکئ.

**دا فورمه باید له لاندې مورد سره په ګډه بشپړه شي**
**د مسلکي روزنې پلان (DSS-6228) او/یا د استخدام د وړتیا پلان (DSS-6232)**
**د اداري د یو کارکونکي لخوا.**